مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هاجره حرکت
۲۰۲۱/۱۱/۱۶

# بیا بل ځوان له کلی ووت

د حسرت تیاري خپرې شوې، بیا بل ځوان له کلی ووت
د خوښیو شـیـبې لاړې، پـه ارمـان له کـلی ووت

چي په جګو شملو مست ول، نن هغه زلمي وتلـي
د پردی ښار په کوڅو کي،  لالـهـاند له کلـي ووت

ښه په خپل زیار سره وخوت علمیت لوړې پوړی ته
چي د ولس چوپړ ته پاڅید، څه ناتوان له کلي ووت

مور يـې وکړله پالـنـه ،د زلمـی زوي ښـه روزنـه
د حاصل وخت چي يي راغې، نو سرسام له کلي ووت

پـه سـپـيـڅلو ارمـانـو يـې، د زړه خـونـه وه ودانـه
تندریز سیلاب ترې وپوړل، چي ودان له کلی ووت

اوس يي وسولو خيالونه، خواري مور تول اميدونه
د ارمان غوټی يي توی شوه، په لړزان له کلی ووت

لـه حـالاتـو يي ګيله کړه، خوږې مورسوی ناره کړه
څه په سختو مي رالوی کړ، څه ارزان له کلی ووت

هره غونده هر باندار کې يې، وينا ته خلک ناست ول
نن ژړل پسې سپین ږیرو، مهربان له کلـي ووت

د سپوږمی رڼا تیاره شوه، د اسمان ستوري ويده شو
په ګاونډ کي له ځوانـانـو، نـه حـيران له کلـی ووت

د سفر پـر کړه لار يـې، مـحبوبـا اوښکي لونـلـې
د راتـګ وعـده يي نه شوه، په سوران له کلی ووت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ